# خان عبدالولي خان

## د چنار په څېر قدآور شخصیت

اقبال حسېن افکار



عالي مرتبت خان عبدالولي خان سره زما ورومبے مخ په مخ لیدل، کتل د اروابناد خان عبدالغني خان لېوني فلسفي په ځائے محمدنارۍ کښې شوي ؤ. وخت او نېټه را څخه هېره ده خو زمونږ د پښتو ادبي سوسائټۍ اسلام آباد ملګرو پرېکړه کړې وه چې د خان عبدالغني خان مشهور و معروف انګرېزي کتاب "دې پټهان" بیا چاپ کړي چې دغه وخت په مارکېټ کښې د انځرګل شوے ؤ او د محترم هاشم بابر صېب سره ئې یوه کاپي پرته وه، د ادبي سوسائټۍ د ملګرو دا پرېکړه چې ما د محترم هاشم بابر غوږو ته ورسوله نو هغه ډېرخوشحاله شو، وئیل ئې افکاره د چاپ خدمت به ئې تۀ پوره کړې او مالي لګښت به زما وي خو غني خان ته به دا حال نۀ وائې، هغه یو خودداره شخصیت دے امکان لري چې هغه دې خبرې ته غاړه کښې نۀ ږدي. محترم هاشم بابر صېب د غني خان د نزدې دوستانو نه یو دے، دواړه په یو بل ورک مئین وو، ولې محترم هاشم بابر صېب نه په عمر مشر ؤ، ځکه نو دۀ به ورته لالا وئیل. ډېر احترام به ئې ورکولو. غني خان یو شفیق مشر ؤ، د خپلو کشرانو سره شفقت د هغۀ خاصه وه.

یوه ورځ د اوړي په سره غرمه کښې زۀ د کتاب د چاپ په لړ کښې محمدنارۍ ته د هغۀ لیدو له لاړم، دغه وخت د هغۀ ملازم کریم راته ووئیل چې د هغۀ سترګې ورغلې دي، څۀ چل وکړم را پائې ځوم؟

ما ووئیل نۀ زۀ به لږ انتظار وکړم. ساعت ګړۍ تېره نۀ وه چې په دې کښې اروابښاد خان عبدالولي خان، مېرمن نسیم ولي خان، ډاکټر ګلالۍ او د هغې خاوند ډاکټر جهانزېب راغلل. دغه وخت زۀ په ډېره کښې ناست وم کله چې غني خان د خوبه رابېدار شو، کریم ورته زما ووئیل نو هغۀ ورپسې همسا ته لاس کړو چې تا ولې زۀ د خوب نه رابېدارولم نۀ، هغۀ ترې په دې ځان خلاص کړو چې افکار ووئیل چې مۀ ئې رابېداروه. زۀ به انتظار وکړم.

زۀ چې کله د غني خان کوټې ته ننوتم نو هلته د غني خان سره په کټ کښې ښنو خوا ته ډاکټر ګلالۍ ناسته وه. اروابښاد خان عبدالولي خان او مېرمن نسیم ولي خان صوفه کښې دواړه ناست وو، د ولي خان زوم ډاکټر جهانزېب ناست ؤ.

زۀ چې د خان بابا غني خان خونې ته دننه شوم نو وړومبې حسب روایت هغۀ له ورغلم، ډاکټر ګلالۍ راپورته شوه، د سلام سره ئې ماته د خان بابا په څنګ کښې ځائے پرېښود او چې کله ما مخ د اروابښاد خان عبدالولي خان او مېرمن نسیم ولي خان خوا ته کړو نو د قدر وړ مشر دا موقع په لاس را نۀ کړه چې زۀ دې احتراماً را ټیټ شم او د هغۀ سره دې بره ګړه وکړم هغه په صوري او معنوي لحاظ د چنار په څېر قداوره شخصیت نېغ ولاړ ؤ. غني خان ووئیل ولي! دا افکار خان دے په اسلام اباد کښې پښتو ادبي سوسائټي چلوي. زما دپاره دغه لحظې د نۀ هېرېدو دي. ولې چې زۀ اروابښاد خان عبدالولي خان ښکل کړم، بي بي مې په سر د شفقت لاس رابنکو، ډاکټر ګلالۍ او د هغې خاوند راته د خور او ورور مینه راکړه. الله تبارک تعالي دې د خان عبدالولي خان درجې بلندې کړي. بي بي له دې الله تعالي ژوند د خوشحالو ورکړي او د ډاکټر ګلالۍ او د هغې خاوند په ژوند کښې دې الله تعالي برکت واچوي. امین

د دې نه وړاندې یو ځل د پښتو ادبي سوسائټۍ اسلام آباد د ملګرو سره په ملګرتیا کښې د خان عبدالولي خان سره په ګورنمنټ هاسټل کمره نمبر **9** کښې ملاقات شوے ؤ. دا غالباً د **1988** کال خبره ده. په دغه شپږو کښې عوامي نېشنل پارټي د صوبې څخه د قامي اسمبلۍ دوه سېټونه راوړي وو، په یو سیټ ولي خان د چارسدې نه او په دویم عبدالخالق خان د صوابي څخه کامیاب شوے ؤ. وروستو په ضمني الیکشن کښې حاجي غلام احمد بلور صېب این اې ون پشاور ون سېټ وګټو. دغه ورځو کښې تازه الیکشن شوے ؤ. زمونږ په ملګرو د مایوسۍ خپسې ناستې وې. خان صېب له هم په اسمبلۍ کښې ناستې خوند نۀ ؤ ورکړے ولې چې په دغه اسمبلۍ کښې اصولي سیاست نۀ ؤ. د آئین د بالادستۍ او د قانون د حکمرانۍ خبرې نۀ وې، بس ذاتیات وو، کج بحثي وه. ولي خان په دې موقع ووئیل نۀ پوهېږم چې دا نوابزاده نصرالله خان به دلته څنګ وخت تېروي. زما دپاره خو دلته ناسته ډېره ګرانه ده. په دې موقع چې زمونږ یو ملګري د هغوي پام دې خوا ته راواړولو چې تاسو به په دومره ایوان کښې په دوه نشستونو څۀ کوئ؟

نو خان صېب(ولي خان) زمونږ دغې ملګري ته په ډېر شفیقانه انداز ووئیل. بچیه! خفه کېږئ مۀ د رنګ ډُوکي زمونږ لاس کښې ده، کۀ کله هم دوي

ورانے کوي نو مونږ به پرې کټ لګوو، هم هغه وشوه. تر څو چې د هغۀ حکومت سره د اې این پي اتحاد ؤ، نو خبره روانه وه او چې د هغه وخت وزیراعظم د خان عبدالولي خان سره هتک آمیزه رویه خپله کړه، اې این پي په دې قدم ډېر بد ومنل او د غه رنګ د حکومتي اتحاد څخه ئې لاس واخستو. آخر غلام اسحاق خان ورپسې د بېږې نه د اتم ترمیم چاړۀ 58/2 B راوویسته او هر څۀ ئې ګډ ګومبت کړل. اې این پي د نوازشریف د مسلم لیګ سره اتحاد وکړو په دې اقدام د اې این پي څخه ځنې ملګري بېل شول، هغوي د پیپلز ګوند سره ملګري شول، دا ځل د یو سازش تحت خان عبدالولي خان ته مذهبي او ټولو سیاسي جماعتونو اتحاد وکړو او ورته ئې په مقابل کښې حضرت مولانا حسن جان صیب شیخ الحدیث ودرولو. په انتخاباتو کښې عوامي نېشنل پارټۍ د مخکښې نه زیات سیټونه په قامي او صوبائي اسمبلۍ کښې وګټل. ولې خان عبدالولي خان الیکشن بېلود. دغه رنګ یو مطبوعاتي کانفرنس



کښې د عملي سیاست څخه مستعفي شو. د پاکستان په تاریخ کښې دا اعزاز خان عبدالولي خان ته حاصل دے چې هغه د خپلې حلقې د الیکشن بائیللو نه وروستو د عملي سیاست څخه کناره کش شو. حالانکې دغه وخت هر چاته معلومه وه چې دا یو سازش دے. ولې چې هم په دغه حلقه هم په دغه الیکشن کښې اې این پي د صوبائي اسمبلۍ څلور واړه سیټونه وګټل. بهر حال عوامي نېشنل پارټۍ د خپلې پارټۍ په الیکشن کښې د ولي خان په ځائے محترم اجمل خټک د پارټۍ صدر جوړ کړو خان عبدالولي خان د دانش او تدبر خاوند ؤ، هغه د یو اعلي پائې تجزیه نګار ؤ، د هغۀ تقریرونه، مطبوعاتي کانفرنسونو کښې به یو خوا کۀ متلونو او لطیفو خوند رنګ پېدا کړے ؤ، نو بل خوا به هغه د ژبې د روزمرې محاورې هم ډېر خیال ساتلو. زما په خیال د یو لوئے لیډر کمال هم دا وي چې هغه د دانش او تدبر خبره هم د اولس په ژبه کښې هغوي ته وکړي چې هغوي په خپل مقصد او مدعا پوهه کړي.

لرې به نۀ ځو د افغانستان د جنګ په لړ کښې به هغۀ چغې وهلې چې دا د دوؤ سپر طاقتونو جنګ دے، د سنډګانو په دې جنګ کښې چیند خان چخني کېږي. دغه رنګ د هیچا د کفر د فتوو پروا ئې نۀ کوله او په جار به ئې ووئیل چې دا جهاد نۀ فساد دے.

نن ورته هر څوک نۀ یواځې فساد وائي بلکې دا هم وائي چې د هغۀ وخت جهادیانو ته به د اسرائیلو امداد هم راتلو. د جېنوا اکارډ په لړ کښې یو وار تقریر کولو دغه وخت د پاکستان وزیراعظم محمد خان جونېجو او د هغۀ عوامي حکومت په دې حق کښې وو چې دغه موافقه لاس لیک کړي، ولې بل خوا د پاکستان صدر جنرل ضیاءالحق او د هغۀ ملګرو نۀ غوښتل چې دا موافقه لاس لیک کړي.

ولي خان په دې لړ کښې په خپل تقرير کښې يوه لطيفه بيان کړه وائي: " چې د يو سړي دوه پټي وو يو نهري او بل باراني چې يو کښې به ئې فصل وکرو ، دومره بارانونه به وشو چې فصل به خراب شو او چې په باراني کښې به ئې فصل وکرو نو بيا به بارانونه نۀ کېدل. يو وار هغۀ په يو ځل په دواړو فصل وکرو ، د دې سره په اسمان ګُورې وريځې راغلې، سړے کور ته لاړو وې لامبل، پاکې جامې ئې واغوستې، بربتونو ته ئې تېل ورکړل، کله به د يو پټي او کله به د بل پټي خوا ته تلو او لاس او پښې به ئې وهلې. چا ترې تپوس وکړو چې هلکه څۀ غوبل دې جوړ کړے دے. وئيل ئې ياره غرمۀ کوه نور کله ئې زۀ حېران کړے وم او نن ما حېران کړے دے چې وې وروم کۀ نه" نو هم دغه حال نن د پاکستان د حکمرانانو دے چې موافقه لاس ليک کړو کۀ نه.

مردان بار کونسل ته ئې د خطاب په وخت ووئيل چې يوه ورځ راته حکمتيار ووئيل چې خان ودې منله په دنيا کښې واحد سړے يم چې امريکه مې د خپلو مقاصدو دپاره استعمال کړه. دغه ورځو کښې په افغانستان کښې د پروفېسر برهان الدين رباني حکومت ؤ او ښاغلے حکمتيار صېب په چهار آسياب کښې راګېر ؤ. خان بابا په خپل تقرير کښې ووئيل چې اوس حکمتيار د دغې غونډې څخه نۀ راښکته کېږي چې تپوس ترې وکړم چې امريکه تا استعمال کړه کۀ تۀ ئې استعمال کړې.

يوه ورځ اخبار نويسانو د کالاباغ ډېم په لړ کښې وپوښتل خان بابا ووئيل دا ډېم نۀ جوړېږي کۀ جوړ شو نو زۀ به ئې په بم والوزوم. په سبا له د پاکستان د ټولو اخبارونو سرخيانې هم د خان بابا دغه وېنا وه. خو ولې چا پرې هم سوچ ونۀ کړو چې خان بابا ولې داسې وائي د هغۀ لار خو د عدم تشدد ده.دې ته ووئيلے شي دانش او تدبر در اصل کالاباغ ډېم د پاکستان دپاره قابل عمل منصوبه نۀ ده چې پاکستاني حکمرانان ئې دې عملي کړي او چې عملي کېږي نۀ نو د بم ضرورت هم نۀ پېښېږي. کله چې نواز شريف په خپل حکومت کښې د کالاباغ ډېم جوړولو اعلان وکړو او صوبائي اسمبلۍ کښې د هغۀ د پارټۍ خلقو د پښتونخوا د قرارداد مخالفت وکړو نو هم په دې لړ کښې د پېښور په کننګم پارک کښې يوې لويې جلسې ته د وينا په وخت ولي خان په خپل تقرير کښې يو ګزار د سپريم کورټ په پخواني چيف جسټس نسيم حسن شاه چې په قد وړوکے دے وکړو ، وې وئيل چې دې د کالاباغ



ډېم په لړ کښې بیانونه نهٔ ورکوي، د خپل قد مطابق دې خبره کوي. د ولي خان د دې خبرې څخه وروستو د کالاباغ ډېم په لړ کښې د دغه سړي بیا چرته بیان نهٔ دے ورکړے. دوېمه خبره ئې دا وکړه چې وزیراعظم نوازشریف د باباجي او د یو اخبار د ایډیټر په وېنا ملک چلوي. هغهٔ ووئیل چې ملکونه د باباجي او د اخبار د ایډیټر په مشورو نهٔ چلېږي. د ولي خان خبره په ګل بدله هغه بله ورځ چې د امریکې په صدارتي الیکشن کښې اوباما صدارتي الیکشن وګټو نو په سبا له د نوائے وقت سرخي دا وه "بارک حسېن اوباما د امریکې صدر منتخب شو" حالانکې هغه څو څو وارې دا په جار وئیلي دي چې زهٔ مسلمان نهٔ یم، عیسائي یم او عیسایان د اهل تشیع ډېر زیات مخالف دي، کهٔ چرې هم امریکه په ایران برید کول غواړي او یا هغه خرابول غواړي نو وړومبے به په پاکستان کښې فرقه وارانه فسادا تو ته دوام ورکوي او په پاکستان کښې به د ایران په ضد یوه داسې فضا جوړوي چې د پاکستان مسلمانان د هغوي مرستې ملاتړ ته جوړ نهٔ شي. مونږ نهٔ یو خبر چې د نوائے وقت دغه لیډ سرخي به د چا په ګټه تمامېږي. خو دا به ضرور وایو چې یقیناً چې مونږ پښتانهٔ نن چې د کومو بلاګانو سره مخ یو نو دا زمونږ بدبختي ده چې نن زمونږ د رهنمائۍ دپاره د باچا خان او ولي خان په څېر شخصیتونه نشته. خو شکر دے چې د محترم اسفندیار ولي خان په مشرتابهٔ کښې د مخلصه او په پښتون قام مئین خلق د الله فضل دے په ګڼ شمېر کښې موجود دي. پښتنو له پکار دي چې د بل په پروپېګنډه کښې را نهٔ شي. هر پښتون کهٔ په هره پارټۍ کښې دے، وي دي خو د پښتون د مفاداتو دپاره پکار دي چې یو خلهٔ او یو آواز شي. کله چې په صوبه پښتونخوا کښې د اېم اېم اې حکومت جوړ شو او هغوي د صوبائي خودمختارۍ او د صوبې د حقوقو خبره شروع کړه او په دې لړ کښې ولي خان له ولي باغ ته راغلل نو ولي خان بابا ورته ووئیل سراج الحق بچیه! مونږ دا نهٔ وایو چې د سر نه سره چیرړه تاؤ کړه او مونږ پسې شه. تهٔ چې دا څهٔ وائې دا زمونږ غوښتنې دي، تهٔ مخکښې مونږ درپسې. بهر حال جمهوري دور دے د هغوي دور لاړ اوس د اې این پي او پي پي پي دور دے باید چې د دوي سره په ملک کښې د امن او سلامتۍ دپاره کار وکړي.

یوه خبره ډېره مهمه د کراچۍ سندهـ په حواله را یاده شوه هغه دا چې کله په کال **1983** کښې په کراچۍ کښې لساني فسادات شروع شوي وو، نو باچا خان هغه وخت ژوندے ؤ. هغهٔ ووئیل زهٔ څم کراچۍ ته د دې مهاجرو سره خبره کوم په دوي خو زمونږ احسانات دي، دوي ولې نن زمونږ بچي وژني. باچا خان خو چا پرې نهٔ ښودو او نهٔ ئې هغه وخت ولي خان پرې ښودو، بهر حال ولي خان کراچۍ ته لاړو او هلته ئې د اېم کیو اېم او نورو خلقو سره خبرې اترې وکړې، هم د دغو خبرو اترو په ترڅ کښې هلته امنیت راغے. هم د اېم کیو اېم په دور کښې غالباً بنارس چوک له باچا خان نوم کېښودے شوے دے. کله چې په **2006** کښې هلته فسادات وشو نو اسفندیار ولي خان او محترم محمود خان اچکزے هلته لاړل د خپل قوت مظاهره ئې وکړه. هم د دې اتفاق او اتحاد برکت ؤ چې ګورنر سندهـ عشرت العباد او د اېم کیو اېم د رابطه کمېټۍ غړي د زېلي شوو کورنیو ته لاړل د هغوي دادرسي ئې وکړه،

اوس کۀ د اې این پي، ایم کیو ایم او پیپلز پارټۍ دغلته د امنیت دپاره اتحاد کړے دے نو زمونږ په خیال دا هم د پښتنو په ګټه تمامېږي. باید چې د سندهـ په خصوصیت سره د کراچۍ پښتانۀ هم دغه رنګ د شاهي سېد په مشرتابۀ کښې یو موټے شي. یقیناً چې دا اتحاد به د ځنو خلقو په مفاد کښې نۀ وي ولې مونږ له پکار دي چې مونږ خپل قامي مفاد د نظر لاندې وساتو یقیناً چې په جنګ او محبت او سیاست کښې حالات تل یو شان نۀ وي. د وخت سره بدلون ورکښې راځي خو دا کوشش پکار وي چې په دې بدلو شوو وختونو کښې په حېث د قوم زمونږ ګټه څومره ده او تاوان څومره دے. کۀ ګټه ډېره وي نو بیا لږ تاوان برداشت کول پکار دي.